# پخپل کور کې له ماتې سره مخ ډیموکراسي

هغه څه چې نن په نړۍ کې روان دي، په اساسي ډول د رهبرۍ له منځه تلل او د اوسني سیستم ناکامي ده. په دغه سیستم کې د دې پرځای چې د خلکو چارو سمون ته پاملرنه وشي، سیاسي لاسته راوړنو ته ډېر پام کېږي.

دغه پېښې په ټولو برخو کې د امریکایي سیستم بنسټیزه ناکامۍ په ډاگه کوي، لکه په لاندې برخو کې:

په هېواد کې د نژاد پالنې بنسټي کول

له پردیو څخه د وېرې بنسټي کول

په هېواد او نړۍ کې د نابرابرۍ بنسټي کول

د شرکتي گټو بنسټي کېدل

روغتیایي سپارښتونو ته د نه لاسرسي بنسټي کېدل

موږ باید درک کړو چې ټرمپ یو امریکایي دی او دا د هغه خپله تېروتنه نه ده، بلکې ټرمپ په پانگوالي نظام کې ژوند کړی او د ډیموکراټیک، سېکولر او پانگوالي فاسد نظام د روزنې ناوړه پایله ده. هغه غواړي چې له عدالته انکار وکړي او د خلکو چارو ته په رسېدو کې خیانت وکړي.

هلته د لسیزو بې پروایۍ د دې لامل شوې چې په ټولنه کې د باور سیستم له منځه ولاړ شي. امریکا اوسمهال په سیاسي، اقتصادي، نژادي او فرهنگي برخو کې یو پاشل شوی هېواد دی.

امریکایي ډیموکراسي د خلکو له دیده زیانمنه، متزلزله او منځوي شوې ده او دغه حالت له ورایه لیدل کېږي. څنگه چې اوس دوی هم وایي: «چرگوړي د استراحت لپاره خپل کور ته راځي.»

اوس هغه وخت رارسېدلی چې نړۍ د اوسني سیستم یو بدیل سیستم ته غېږ پرانیزي او اسلام دغه سیستم نړۍ ته وړاندې کوي. اسلامي تمدن د اسلامي دولت (خلافت) په وسیله عملي کېږي، چې په دې برخه کې یې له پخوا څخه هم ښه تجربه درلوده او د بېلابېلو نژادونو او قومونو د خلکو په یووالي، له فقر څخه د خلکو په ساتلو، خلکو ته د ښه مقام په برابرولو، روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو، سولې، امنیت او داسې نورو عدالتونو په تامین کې په نړۍ کې ساری نه لري.

اوس په نړۍ کې میلیونه خلک داسې یو سیستم ته اړتیا لري چې الهي قوانین ورباندې عملي کړي او د دوی چارو ته پاملرنه وکړي.

الله سبحانه وتعالی د الفتح په سورت کې فرمايي:

**[هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيداً]**

***ژباړه:*** *«الله سبحانه وتعالی دی چې خپل پیغمبر (رسول الله صلی الله علیه وسلم) یې له رینښتیني لارښود یعنې اسلام سره خلکو ته راولېږه، څو د اسلام مبارک دین پر نورو دینونو باندې بریالی او برلاسی کړي. همدغه پوره او کافي ده چې الله سبحانه وتعالی په دغه کار او خبره باندې شاهد واوسي.»* [الفتح سورت: ۲۸]

**۱۴۴۲هـ.ق کال، د جمادی اول ۲۲مه**

**۲۰۲۱ م کال، د جنوري ٦مه**

**حزب التحریر امریکا**